# الدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ

له نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې اوريدلي دي چې فرمايل يې: «الدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ»، ثُمَّ قَرَأَ: «{وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ} [غافر: 60]». «دعا عبادت دی »» بيا يې - دا آيت - ولوست: «{وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ} [غافر: 60]». «او ستاسو رب فرمايي: تاسو ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم، بېشکه هغه کسان چې زما له عبادت نه تکبر کوي، ژر ده چې دوی به دوزخ ته ننوځي، په داسې حال کې چې خوار او ذليله به وي» [غافر: ۶۰].
[صحيح]

رسول لله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې دعا عبادت دی، نو واجب دي چې ټوله يوازې د الله تعالى لپاره وي، برابره خبره ده که هغه دعا وي او يا غوښتنه، چې د الله تعالى څخه هغه څه وغواړي چې ګټه ورته رسوي، او له هغه څه نه يې وساتي چې په دنيا او آخرت کې ورته زيان رسوي، او يا دا چې د عبادت دعا وي، چې هغه له هر هغه څه نه عبارت ده چې الله تعالى يې له ويناوو، ښکاره او پټو کړنو، قلبي، بدني او مالي عبادتونو څخه خوښوي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم پدې خبره ثبوت وړاندې کړ، ويې ويل چې الله تعالى فرمايلي دي: {ادعوني أستجب لكم إن الذين يستكبرون عن عبادتي سيدخلون جهنم داخرين}. {ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم، بېشکه هغه کسان چې زما له عبادت نه تکبر کوي، ژر ده چې دوی به دوزخ ته ننوځي، په داسې حال کې چې خوار او ذليله به وي}.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5496